# موږ او زموږ مستقل ادب

موږ پښتانه یو، ژبه مو پښتو ده، زموږ ادب به هم پښتني ادب وي!

په دنیا کښې چې کامونه د خپل ژوندون د سموني، او لوړتوب لپاره زیارکاږي، یا مریي اولسونه د خپل استقلال لپاره ویني تویوي، او جګړې کاندي، دوی یوازې سیاسي استقلال نه غواړي، بلکې اقتصادي استقلال، تهذیبي استقلال، ادبي استقلال، علمي او فني استقلال، دا ټوله د یوه مېړني اولس په ژوندون کښې ضروري شیان دي. موږ پښتانه چې د ایشیا د منځ د غرو یو خپلواک کام یو، لکه خپل سیاسي استقلال چې راباندې ګران دی او په وینو یې ساتو او په وینو موګټلی دی، دغسې هم ځانته بېل تهذیبي او لساني او ادبي استقلال لرو، زموږ ژبنۍ خپلواکي هم ټینګه ده او ځانله مستقل ادب او ثقافت لرو.

په تېره شماره کښې موږ پر ادب باندې لږ څه څېړنه وکړه مګر هغه وینا مو نیمګړې پاته سوه، تر اوسه لا هم د زیات تحقیق تږې ده.

د پښتو ژبې ادب خو ډېرې ځانګې او اړخونه لري، په شعر او شاعرۍ کښې ارته لمن لري، که له یوې خوا د ښاروالو ادیبانو کلام، د پردیو ژبو تر اثر څه نه څه لاندې دی، له بلې خوا موږ د غرو او رغو د سپېڅلو پښتنو په ټټروکښې د پښتو د ادب روښې مرغلرې لرو، چې پر خپل استقلال پاته دي، او د پردو اثر نه دي کرغېړنې کړې. د پښتنو دا مستقل او خپلواک ادب ځانله ښېګړې او بېل مزایا لري، چې فقط په ده پورې مخصوص دي، او بل ځای لږ میندل کیږي. زموږ ملي اشعار او سندرې، زموږ پښتني لنډۍ او بدلې، په سبك او وزن او طرز کښې ځانته خصوصیت لري، بېل قواعد او لارې لري، ډولونه یې سره بېل دي، لکه په ظاهري ډول کښې چې د نورو ژبو له ادب څخه استقلال لري، دغسې هم په معنویت کښې ډېر فرق لري، د پښتنو د ادب افکار او د اداء طرز او د تخیل ډول هم په نورو ژبو نه ګډېږي، او د پښتنو ملي شاعرانو او د غرو ویونکو ځانله د ادب بېله زمینه میندلې ده. زموږ په نوي ژوندون کښې خو اوس لازمه ده چې موږ ځانته یو مستقل ادب ولرو، او پر خپل ملي ثقافت او ملي دودونو باندې سم د پښتنوالۍ تر بیرغ لاندې، پر هغه زاړه اساس چې موږ یې لرو د نوي ادب بناء پورته کړو، او ټینګه ودانۍ پر وکړو، نوې دنیا د ادب په روزنه او پالنه کښې موږ ته ښې ښې تجربې راپرېښې او ښې ښې لارې یې راښوولې دي، موږ ته ښایي، چې د دوی څخه د ادب د روزنې او لوړتیا، لار زده کړو، مګر د پردیو تر اثر لاندې یې نکړو، او که زموږ پر ادب پخوا څه نه څه د پردیو کرغېړن اثرونه لوېدلي وي، هغه هم ښایي چې ځنې ورك سي.

زموږ د ژبې په روزنه او د ادب په پالنه کښې لومړۍ چاره دغه ده چې ادبي خلك په ملي ادب کښې چې نن ورځ په غرو او رغو کښې ژوندي دي تدقیق او پلټنه وکړي او راغونډ کړه سي، وروسته نو له دغه تحقیق څخه د دغه زاړه ملي ادب اقسام، افکار، د تخیل ډولونه، او نور ټول خصوصیات او مزایا واخلي، او د نوي ادب د لوړتیا اساس یې وګرزوي، په دې ډول به نو زموږ ادبي او لساني استقلال ښه خوندي سي، او زموږ مستقل ادب به خپور، او د پردو له اثره څخه به وژغورل سي.

په دې باب کښې مو دغه څو لیکې ولیکلې ځکه چې د موضوع لمن ارته ده، نو به بیا ګورو چې ټوله اړخونه یې وپلټو[1].

---

[1] طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمریز کال، ۳۰ مه ګڼه، لومړی مخ.